مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲/۱۱/۲۲

# هېره رڼا

که شي ټوله نړۍ ډوبه په تياره کې
او په ځمکه کې ټول ژوي
د رڼا مانا کړي هېره
که ټول خلک ايمان راوړي
د سرې او وېرونکې شپې په تورو کتابونو
زه به لا هم د رڼا سندرې وايم
زه به لمر،
زه به تودوخه
او
سهار
په ترانو کې يادومه
او خو ځاځکې به د اوښکو
لکه ورک د اسمان ستوري
د ظلما په تروږميو ځلومه
ما به ټول خلک د شپې په تور مذهب باندې کافر کړي
او رامات به مې ځراغ د روڼ خاطر کړي
زه به چيغې لا وهمه
چې:
اخر به لمر راخيژي
دا دونيا به رڼا کيږي
د تياره مزدک راهب به
د سنګسار فتوا جاري کړي
ډېر کلونه
مابنامونه
او پيړۍ به وي اوښتي
زما د مرګ له حادثې نه
پس له ډېرې زمانې نه
يوه ورځ به داسې راشي
چې زه بېرته راژوندی شم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

لکه څرک د سپین سهار چې
د تیارو لمن کړي څېرې
د ړندو سترګو په لار به
د ژوندیو زړه ته ولاړ شم
هغه وخت به مې ډېر خلک
یادوي په ترانو کې
په ماشومو ولولو کې
هغه ورځ چې بیا لمر وخیژي سبا شي،
هغه ورځ چې د رڼا کیسه ریښتیا شي.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ